يو سړي له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه د قيامت په اړه پوښتنه وکړه، ويې ويل: قيامت کله دی؟ هغه وويل: «وَمَاذَا أَعْدَدْتَ لَهَا»، " څه دې ورته چمتو کړي دي

له انس رضي الله عنه څخه روايت دی: يو سړي له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه د قيامت په اړه پوښتنه وکړه، ويې ويل: قيامت کله دی؟ هغه وويل: «وَمَاذَا أَعْدَدْتَ لَهَا»، " څه دې ورته چمتو کړي دي " هغه وفرمايل: هيڅ، خو زه د الله تعالى او د هغه له رسول صلى الله عليه وسلم سره مينه لرم، هغه وفرمايل: «أَنْتَ مَعَ مَنْ أَحْبَبْتَ»، «ته له هغه چا سره يې چې مينه ورسره لرې». انس رضي الله عنه وويل: مور په هيڅ شي دومره خوشحاله نه وو، لکه څومره چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په دې وينا خوشحاله وو چې: «تاسو د هغه چا سره ياست چې مينه ورسره لرئ» انس وويل: نو زه د رسول الله صلى الله عليه وسلم، ابوبکر او عمر سره مينه لرم او زه هيله لرم چې دوی سره زما د مينې له امله ورسره شم، که څه هم زه د دوی په څير عمل ونه کړم.

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه يوه باندچې سړي - چې په صحرا کې اوسيده- د قيامت د نېټې په اړه پوښتنه وکړه چې څه وخت راځي؟ نو هغه صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل چې: د دې لپاره دې په کومو نيکو عملونو سره چمتوالی نيولی دی؟ نو پوښتونکي وويل: په کومو لويو عملونو سره ورته چمتوالی نه لرم، خو دا ده چې زه د الله او د هغه د رسول سره مينه لرم. لدې پرته يې د نورو قلبي، بدني او مالي عبادتونو يادونه ونه کړه؛ ځکه چې دا ټول د هغې مينې برخه ده چې دا (عبادتونه) يې پايله ده، او ځکه چې ريښتينې مينه يو څوک په نېکو عملونو کې زيار ويستلو ته اړباسي. نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: يقينا چې ته به په جنت کې له هغه چا سره يې، چې مينه ورسره لرې. نو د رسول الله صلى الله عليه وسلم صحابه کرام پدې زېرې سره سخت خوشحاله شول. بيا انس رضى الله عنه وويل چې هغه د رسول الله صلى الله عليه وسلم، ابوبکر او عمر سره مينه لري او دا چې دی هيله لري چې له هغوی سره اوسي، که څه هم عمل يې د هغوی د عمل په څېر نه دی.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3087